د افغانستان اسلامي امارت
لوړو زده کړو وزارت
شيخ زايد پوهنتون
علمي چارو معاونيت

**د شيخ زايد پوهنتون د علمي کادر غړو، کارمندانو او محصلانو د روغتيا ساتنې تګلاره**

**ترتيب:** علمي چارو معاونيت

**کال:** ۱۴۰۵ لمريز / ۱۴۴۷ سپوږميز

# د شیخ زاید پوهنتون د علمي کادر غړو، کارمندانو او محصلینو د روغتیا ساتنې تګلاره

**سریزه**

بسم الله الرحمن الرحیم الحمدالله رب العالمین والصلوة والسلام علی اشرف الانبیاء والمرسلین محمد وعلی اله و اصحابه اجمعین اما بعد:

مشهوره اصطلاح ده چې سلیم عقل په سالم بدن کې وي ، که چېرې یو شخص په روحي او بدني لحاظ روغ رمټ وي ، نو کولای شي خپلې ورسپارل شوي دندې په ښه او منظمه توګه تر سره کړي. لهاذا اشخاص ، نهادونه او دولتي پالیسی باید د خپلو کارکوونکو روغتیا ته جدي پاملرنه وکړي، ترڅو د خپلو کارکوونکو کاري ځواک له لاسه ور نه کړي. د جسمي او رواني روغتیا ساتلو په موخه په فردي او ټولنیز ژوند کې د سالم ژوند د طرز ترویج، د اخلاقي او معنوي ارزښتونو خپاروی، د سالم ژوند د مهارتونو خپاروی او د مشورتي خدمتونو وړاندې کول هغه اساسي ټکي دي ، چې په محور یې دغه تګلاره چمتو شوې ده. شیخ زاید پوهنتون مکلف دی، چې یادو موخو ته د رسیدو لپاره د تدریسي روغتون تر چتر لاندې عملي پروګرامونو تطبیق او د پوهنتون محصلینو، استادانو، اداري – خدماتي کارمندانو ته د روغتیا ساتنې لپاره عملي بنسټ چمتو او تصویب کړي.

## لومړی ماده: اساس (بنسټ)

دغه تګلاره د کیفیت لوړونې پروسې د یوولس ګونو معیارونو د یوولسم اصلي معیار د غوښتنې له مخې ترتیب شوې ده

## دویمه ماده: هدف

د دې تګلارې هدف د شیخ زاید پوهنتون د استادانو، کارکوونکو او محصلینو د روغتیا تأمین، ساتنه او لوړول دي.

## درېیمه ماده: د شیخ زاید پوهنتون ژمنې

د شیخ زاید پوهنتون د استادانو، کارکوونکو او محصلینو د وضعیت د ښه والي لپاره داسې پروګرامونه طرحه کوي چې د هغوی د روغتیا او سلامتی په موخه وي. د پوهنتون عمومي ژمنې په لاندې ډول دي:

۱. پوهنتون د کارکوونکو د روغتیا د ملاتړ په موخه د تدریسي روغتون تر چتر لاندې د روغتون د نافذه لایحې سره سم تداوي او درملنه ترلاسه کوي.

۲. د شیخ زاید پوهنتون د استادانو کارکوونکو او محصلینو جراحي درملنه او تشخیصیه معاینات به د امکاناتو په شتون کې په تدریسي روغتون کې تر سره کیږي.

۳. تدریسي روغتون مکلف دی، چې د شیخ زاید پوهنتون د استادانو، کارکوونکو او محصلینو لپاره نور اړین صحي خدمات ، چې په تدریسي روغتون کې نه تر سره کېږي، د خوست ولایت په نورو صحي مرکزونو کې منسجم کړي.

۴. د کارکوونکو، استادانو او محصلینو د روغتیا د ساتنې لپاره د اړینو روزنیزو کورسونو ترسره کول.

۵. پوهنتون ژمن دی چې د ټولو کارکوونکو، استادانو او محصلینو لپاره سالم کاري چاپېریال برابر کړي.

۶.پوهنتون ژمن دی چې د کارکوونکو، استادانو او محصلینو د روغتیایي وضعیت د ښه والي لپاره روزنیز پروګرامونه تنظیم او تر سره کړي.

۷. پوهنتون ژمن دی چې د کارکوونکو، استادانو او محصلینو د روغتیا د ښه والي په موخه د فشار (سټرس) د مدیریت تر عنوان لاندې پروګرامونه ترسره کړي.

۸. پوهنتون ژمن دی چې د کارکوونکو د شخصي حریم ساتنه وکړي، څکه هغوی د خپل شخصي روغتیا اړوند معلوماتو په اړه حساسیت لري، او د هغوی د ملاتړ او باور د جلبولو لپاره دغه معلومات خوندي او محرم وساتي.

**څلورمه ماده: د کارکوونکو، استادانو او محصلینو د رواني روغتیا ساتنه**

د کارکوونکو، محصلینو او استادانو د روحي او رواني روغتیا ساتنې په موخه، پوهنتون روزنیز پروگرامونه په کار اچوي. څو د ټولو کسانو روحي او رواني ستونزو او مشکلاتو ته رسیدګي وکړي.

## پنځمه ماده: د روغتیا د کمېټې جوړول

د تدریسي روغتون تر چتر لاندې د افرادو د روغتیا د لوړولو او د هغوی د صحي ساتنې د تأمین په موخه، پوهنتون هڅه کوي چې یوه کمېټه تأسیس کړي. دا کمېټه ژمنه ده چې لاندې چارې ترسره کړي:

۱. د روغتیا ساتنې پروگرامونو پراختیا، رهبري او همغږي.

۲. د کارکوونکو د علاقو او اړتیاوو تشخیص.

۳. د کارکوونکو د ګډون لپاره د هڅونې رامنځته کول.

۴. په مدیریت کې د روحیې، شوق او ژمنتیا ساتل.

۵. د کمېټې د غونډو ترسره کول.

۶. د کارکوونکو، محصلینو او استادانو د روغتیا او رفاه ارزونه.

۷. د شکرې او لوړ فشار د ناروغانو احصایه.

۸. د کاري چاپېریال ارزونه او د روغتیا او رفاه ساتنې لپاره اړینې سپارښتنې او فیدبک وړاندې کول.

۹. د ورځې په جریان کې د بدني فعالیتونو تر سره کول .

۱۰. د کارکوونکو، محصلینو او استادانو ترمنځ د ورزشي سیالیو او مسابقو ترسره کول.

۱۱. د روغتیا اړوند فعالیتونو په اړوند د کنفرانسونو وړاندې کول

۱۲. د ورزش متخصصینو شتون تر څو د نرمښت او بدن جوړونې په اړه منظمې تشویقي ویناوې وکړي.

۱۳. د ورزشي سالونونو سره قراردادونه کول، څو کارکوونکي، استادان او محصلین ورزش ترسره کړي.

۱۴. د تغذیې متخصص حضور او د خوړو د ډولونو او د هغوی د استعمال طریقې په اړه ویناوې.

۱۵. تدریسي روغتون مکلف دی، چې د عاجلو پېښو لپاره د هرې پوهنځي په تدریسي مدیریت کې د لومړنیو مرستو صندوق ځای پر ځای کړي.

۱۶. تدریسي روغتون مکلف دی، چې د عاجلو پېښو د کابو کولو لپاره ځانګړې امبولانس او تیلفوني شمېره د پوهنتون په ټولو ودانیو کې خپاره کړي.

SHAIKH ZAYED UNIVERSITY
۱۳۸۱

## شپږمه ماده: د وینې د شکر (قند) ټېسټ د اخیستلو اسانتیا

۱. د افرادو د روغتیا د وضعیت د ښه والي په موخه، پوهنتون او تدریسي روغتون موظف دی چې د افرادو د وینې د شکر (قند) ناروغانو ته د موسساتو په مرسته د شکر د تیست آلې برابرې کړي او د هغې څخه د ګټې اخیستنې په موخه لازم روزنیز پروګرامونه جوړ کړي. همدارنګه د وینې لوړ فشار ناروغانو ته هم ورته اسانتیاوې برابرې کړي.

۲. تدریسي روغتون مؤظف دی، چې د دې پوهنتون د افرادو د بینایي د ښه والي او معالجې لپاره لازمې اسانتیاوې برابرې کړي.

۳. روغتیايي او رواني اړوند مختلف روزنیز پروګرامونه په لاندې ډول ترسره کېږي:

۱. د ژوند مهارتونه
۲. د غصې مدیریت
۳. د ستونزو د حل مهارت
٤. د ماشوم روزنه

۴. د لومړنیو مرستو (First Aid) ورکشاپونه ترسره کول.

۵. **تدریسي روغتون م،ظف دی،** چې په پوهنتون کې د فزیکي او کیمیاوي خطرونو په اړه د پوهاوي او معلوماتو لازمې برنامې په کار واچوي.

۶. د زړه او دماغي سکتې د خطرونو د پېژندنې او د مهمو ناروغیو د سکرینګ په اړه د بنرونو او پوسټرونو نصب او خپرول.

## اوومه ماده: د روغتیا او روغتیايي ساتنې اړوند لازمو معلوماتو رسونه

۱. پوهنتون د کارکوونکو، استادانو او محصلینو د پوهاوي لپاره په پوهنتون کې روغتیايي او روغتیايي ساتنې بنرونه نصبوي.

۲. د پوهنتون په داخل کې د سګرټ څکولو د منع نښو (signs) لګول.

۳. په داخل د پوهنتون کې د هر ډول نشه يي موادو د استعمال مخنوی.

## اتمه ماده: روغتیايي بیمې

۱. د شیخ زاید پوهنتون او د تدریسي روغتون د رهبرې په لزوم دید د پوهنتون د ریاست، مرستیالانو، د شفاخانې پرسونل، د پوهنتون د کادر استادانو، اداري، خدماتي او ساتنې کارکوونکو او محصلینو ته د وړیا خدمتونه تر سره کیدلی شي.

۲. د شیخ زاید پوهنتون د تدریسي روغتون په درملتونونو کې د استادانو، اداري کارمندانو او محصلینو لپاره ځانګړی تخفیف په نظر کې نیول کېږي.

**نهمه ماده:** دا طرزالعمل نهه مادې لري، چې د شیخ زاید پوهنتون د علمي شورا په د **۱۰** / **۱** / **۱٤۰۵** نېټې غونډه او (**۱۳**) نمبر پروتوکول کې تائید شوې دی.

پوهنمل نورالله حسین خیل
د شیخ زاید پوهنتون علمي مرستیال